مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۱۹/۰۵/۱۳

# یوه شپه

یوه شپه وه ستا په یاد کې تر سهاره تېرېدمه
د خیالونو په دریاب کې لکه څاڅکی ډوبېدمه

زه د پرخې په دود راغلم تا به خود نه یم لیدلی
له نسیم سره ملګری پر باړخو دې لګېدمه

زه یې ستا له کوڅې یووړم شور مې کلی پر سر واخیست
ته په تور خبره نه سوې زه په دار کې زنګېدمه

لکه نه ومه راغلی هسې ورک سومه په شپه کې
هم په خُم کې ګرځېدمه هم پر شونډو تښېدمه

هم پخپله سره لمبه سوم هم پتڼ راسره وسو
د جنون یوه کیسه وم په پانوس کې ختمېدمه

د نصیب ږنګه توبه یم شیخه مه راته قارېږه
لا پر خوله راغلی نه وم چې په زړه کې ماتېدمه

یو په یو مې کړه رابېله درخانۍ له حجابونو
افسانه د ادم خان وم په رباب کې شرنګېدمه

جهاني په یاد مې نه دې چې به چا یم اورېدلی
لکه نکل د تروږمیو په تیاره کې هېرېدمه.

د ۲۰۱۹ کال د مې د میاشتې یوولسمه ویرجینیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ